بسم الله الرحمن الرحيم

دافغانستان خپلواکی او د زدکړو وده په افغاني ټولنه کې

ناپوهي او د تعليم نه شتون افغانستان هر ځلي په ځانګړي ډول په معاصر تاريخ کې له کوانبسونو سره مخ کړی آن تر دي پورې چې خپل منځي جګړي، تعصبونه د ټولنې د هر اړخيزې نه وده په ځانګړي ډول په اقتصادي، سياسي او ټولنيزه برخه کې لاملي په وګړو کې د تعليم د کچې کموالي او په ځينو سيمو کې حتی د نشتون ګنل کيږي، خو له خپلواکي نه وروسته د خپلواکي مخکښو کسانو د تجربې له پلوه دغه نه شتون ته د تکميليدو هڅې پيل کړي چې په ځانګړي ډول د افغانستان د خپلواکي سالار او مترقي شاه امان الله خان دغه نيمګړتياوی د هغه وخت له علومو سره سم ورته ځانګړي توجه وکړه، چې د هغه يوه مهمه خبره د تاريخ په زرينو کرښو کې ليکل شوي چې وېل به يې: ( توپک کيږدي او قلم واخلي ولي چې باسواده ملتونه خپلواک پاتي کيږي او تل به خپلواک وي)

پدغه ليکنه کې غواړم تر څو وروسته له خپلواکي نه د امانيه دورې د زدکړو تګلارو او ګړنلارو ته چې په معاصر اداري سازماني جوړښتونو کې د ستراتيژيو او پاليسيو تر عنوان لاندي ورته ځانګړي توجه کيږي يو لنډه کتنه ولرم چې تر څو په هغه وخت کې د امانيه دوري د تعليم په برخه کې تاريخي زرينتوب را ښکاره شي:

۱- د امانيه دورې د زدکړو ستراتيژي ( تګلاره):

مخکې لدينه چې د امانيه دوري تعليمي ستراتيژي او تګلاري ته اشاره وکړو اړينه ده تر څو ستراتيژي ( تګلاره) وپيژنو:

ستراتيژي هغه تګلاري او تدبيرونه دي چې د هغې څخه په استفادې سره وکولای شو خپلو مخو ته ورسيږو.

او يا په بل عبارت سره ستراتيژي هغه تګلاري او يا تدبيرونه دي چې د سازمان د منابعو اوماحول په نظر کي نيولوسره د هغې پواسطه ديو سازمان اوږ مهاله موخې ( هدفونه) لاسته راوړل کيږي.

د پورتنيو تعريفونو پر بنسټ بايد وويل شي چې د يوې ټولنې پرمختګ او همدارنګه د يوي هوسا او سالمي ټولنې د جوړيدو لپاره بايد د هغې ټولنې ټول وګړي وکولای شي له عامه دولتي خدمتونو نه برخمن شي په ځانګړي ډول زدکړه او تعليم چې د ټولنې د ودي او پرمختګ لپاره د وګړو اساسي حق هم ګڼل کيږي بايد پرته له توپيره زمينه مساعده شي

په ټوله کې د زدکړو ستراتيژي د امانيه شاهي حکومت په لومړيو کرښو کې قرار درلود هماغه و چې په ستراتيژيک تګلاره کې د زدکړو په برخه کې په عمومي موخو سره چې هغه په افغانستان کې ټولو وګړو ته د سواد او تعليم زمينه برابرول او له بيسوادي سره مبارزه وه د پاليسيو(تګلارو) جوړښت و، او همدا راز د زدکړو او تعليم په برخه کې د قوانينو ( نظامنامو) برابرول او د شاه امان الله خان لخوا د هغو نافذيدل دي او له بلي خوا په عموم کې د درسي نصابونو برابرول په تعليمي ستراتيژي کې د امانيه دوري له لويو مخو څخه ګڼل کيږي چې د افغانستان په تعليمي برخه کې په معاصره ډول تر اوسه پوري ورنه ګټه اخيستل کيږي.

۲- د امانيه دوري د زدکړو پاليسي ( ګړنلاري):

بیا هم مخکې لدینه چې د امانیه دورې د زدکړو پالیسیو ته رښا واچوو اړینه ده تر څو پالیسي معرفي کړو:

پالیسي انګلیسي کلمه ده چې په پښتو ژبه کې ورته کیدای شي کړنلاره استعمال کړو او عبارت ده له:

د تصمیم نیوني لپاره د یو جامع تګلارې او لارښود نه عبارت ده.

او یا په بل عبارت سره پالیسي او ګړنلاره د ستراتیژیکو ( تګلارو) د پلانونو د تطبیق په موخه د یوو هیواد یا یوې اداري عمومي موخو ته د رسیدلو په لاره کې له پراخو پلانونو څخه ګڼل کیږي.

د امانیه دورې تعلیمي پلانونه که ولوستل شي دغه موضوع ورکې جوتیږي لکه په معاصرو اداري سیستمونو کې هغو ته ستراتیژي ( تګلاره) او پالیسي (ګړنلارو) ویلل کیږي.

نو ځکه ویللی شو چې د امانیه دورې د عمومي ستراتیژي په پام کې نیولو سره چې د سواد او زدکړې برابرول و او په بیلابیلو برخو کې ورته وده ورکول لکه په تقنیني، تعلیمي او تحصیلي دورو کې هغو ته د نصابونو برابرول، د معلمینو او معلماتو ( نارینه او ښځینه ښونکو) کدرونو ایجادول، چې هرې برخې ته په ځانګړې ډول لاندي اشاره کوم:

أ) په تقنیني برخه کې :

په تقنیني برخه کې وروسته له خپلواکې نه د نظامنامو نافذیدل په افغاني ټولنه کې په پراخه کچه تغیر راوستل شو د افغانستان د لوړ دولت د نظامنامې ( اساسي قانون ) په کال ۱۳۰۲ هـ ل / کې نافذیدو سره د وکړو د اساسي حقوقو ځانګړتیاوې په لومړي ځل په افغانستان کې تقنیني تدوین ځانته غوره کړ د تعلیم او زدکړو په برخه کې د غه معتبر حقوقي او قانوني سند په (۱۵) ماده کې داسي تصریح شوي وه:

( ټول مکتبونه د افغانستان تر پلټنې او علم آوري لاندي دي، حکومت په ټول هغه سببونو او تدبیرونو غور او کوښښ کوي، چې لپاره د تربیت د عملي او قومي د ټولو وسیدونکو افغانستان په یوو شاني سم او برابر وي، مګر په هغه تعلیمي قاعدو ته باید هیڅ خلل او ویجاړه نه رسیږي چې په امور د دیني او مذهبي د هندوانو یا نور امان غوښتونکو پوري تعلق لري.)

همدا راز د افغانستان د اساسي تشکیلات د نظامنامې کال ۱۳۰۵ هـ ل / په لومړی فصل کې د مرکزي اداري تر عنوان لاندې په (۵) ماده کې په (۶) جزء کې د معارف وزارت تر عنوان لاندي تشکیلاتي اداري ته اشاره کړي وه چې لا مخکې د معارف جلیله وزارت اساسی نظامنامه په کال ۱۳۰۲ هـ ل کې نافذ شوي وه.

په تقنیني برخه کې د امانیه دور ې پالیسي او کړنلارې د معارف او زدکړو د ستراتیژي پر بنسټ واضح او مصرحه وه چې د افغانستان د لوړ دولت اساسي نظامنامه ( اساسي قانون ) کې په واضحه ډول د وکړو د حقوقو په فصل کې د زدکړو ارزښت او د غه اساسي حقې د افغان وکړو برابر حق بللي و او حتی زمونږ د اهل هنود د وطندارنو حق د تعلیم او زدکړو په برخه کې د هغو دیني او اعتقادي بنسټ خوندي بللي و.

ب) د معارف د ټولنې ( انجمن ) جوړول:

په امانيه دوره کې وروسته له خپلواکۍ د معارف او زدکړو په برخه کې د لومړی ځل لپاره د معارف ټولنه ( انجمن) ايجاد شوي وه دغه ټولنې دنده درلودله تر څو د تعليم او زدکړو په برخه کې او د افغان وکړو د دغه اساسي حق په پام کې نيولو لپاره لازم تدبيرونه ونيسي په ځانګړي ډول دغې ټولنې له معارف وزارت سره جوخت د تعليمي نصاب برابرول او تصويبولو کې او همدا راز د هغو د مفرداتو او کتابونو د تاليف دنده او معلمينو ته د زدکړو د ميتودونو لارښونه پر مخ بوله چې اړين اقداماتي د هغه وخت د معارف په تاريخ کې ثبت او د ستايني وړ بلل کيږي.

د معارف جليله وزارت اساسی نظامنامې په (۱۵) ماده کې د معارف د ټولنې په ارتباط داسي حکم شوي و:

(انجمن معارف در باره جداول درسيه و دستور العمل ها و هرنوع لوايح نظام و قانون راجع به مکاتب و تدريسات را که از طرف رياست تدريسات ابتدائيه و تاليه داده ميشود و نيز در خصوص انتخاب کتب درسيه اجرای مذاکرات و اتخاذ مقررات مينمايد.

مدعياتی را که راجع به امور انضباطيه و نسبت به مديران و مامورين و معلمين مکاتب بوقوع می آيند همين انجمن تحقيق و اتخاذ مقررات ميکند، هرگاه تجويزی از طرف يکی از اعضای مجلس اظهار شود و مظهر قبول اکثريت آراء باشد اينگونه تجويز موضوع مذاکره ميتواند شد.)

همدا راز په (۱۹-۱۸-۱۷-۱۶ ) مادو کې د غې نظامنامې د معارف د ټولنې د دندو په اړه وضحاتونه درلودل لکه څرنګه چې په (۱۹) ماده کې د پښتو ژبې د درسي کتابونو د تاليف لپاره داسي حکم کړي و:

( برای ضبط و تدوين اصول و قواعد لسان پشتو و برای نقل و ترجمه کردن کتب درسيه باين زبان يک مرکه (د پشتو) تشکيل ميشود و اين مرکه (د پشتو) به انجمن معارف مربوط ميباشد.)

پدغه ټولنه کې د هغه زماني مشهور ديني عالمانو او نورو غړيتوب درلود.

ج) د تعليمي دورو نصاب:

په امانيه دوره کې وروسته له خپلواکۍ د لومړی ځل لپاره منظم تعليمي دوري سره له منظمو نصابونو رامنځته شول لکه ابتداييه دوره، تاليه دوره او رشديه دوره او وروستي لوړي زدکړي چې د اوسني تعليمي او تخصصي زدکړو پر بنسټ ابتداييه، متوسطه، ثانويه او د عالي تحصيلاتو دوره ورته يادولی شو.

دغو هري دوري ته د منظمو پاليسي ( کړنلارو) پر بنسټ منظم نصابونه جوړ شوي وه د بيلګې په ډول ځينو ته په لاندي ډول اشاره کوم:

۱- ابتداييه دوره:

په کال ۱۳۰۷ هـ ل/ کې د معارف ټولنې لخوا د ابتدايي مکتبونو لپاره يو تعليمي پروګرام تصويب شوي وه او په لاندي ډول سره له مفرداتو او لازمو لارښونو د معلم لپاره ورکې مالومات موجود و چې له هغه جملی نه د لومړی دوري نصاب ته اشاره کوم:

- د لومړۍ کال مضامین او مفرادات:

د دینیات مضمون :

وضوء، نماز و حفظ اذکار نماز و قرائت سپاره اخیر قرآن کریم از الفیل الی آخر.

انتباه:

معلم باید عملا از روی حرکات خود به شاگرد وضو و نماز را بیاموزاند و اذکار نماز را برای متعلم حفظ کند در ماهای اخیر سال که شاگرد قابل قرائت شود رساله اول دینیات را برایش تدریس کند تا در حفظ اذکار نماز برای شارگرد پختگی پیدا شود و در قرائت فارسی بیشتر قوت بگیرد.

د اخلاقو مضمون:

معلم باید از پاکی و نظافت وجود برای شاگرد تعریف کند پاکی و سترگی جامه را توصیه نماید وقت بخواب رفتن و وقت از خواب بیدار شدن را توصیف کند از خوردن طعام به اوقات معین اوصاف نماید، پابندی وقت را تاکید کند از چند بازیهای که ورزش و اخلاق را دارا باشند شرح نماید از سوانح شیرین آدمهای مشهور و مشهود شفاهی برای شاگردان بیان نماید.

د فارسی مضمون:

نصاب یکساله صوت غزل و قرائت فارسی اول حفظ معنای چند لغت آسان یک یا دو غزل اخلاق را حفظ کند.

مشق تمام حروف فارسی و نوشتن مرکبات دو حرفی سه حرفی و جمله های که از همین گونه کلمات مرکب باشند.

د حساب مضمون:

نوشتن اعداد از یک الی صد و خواندن آنها مشق واعمال اربعه بسیط از اعداد یک الی بیست.

انتباه:

معلم باید خود بر تخته اعداد را بنویسد یک یک شاگرد را بر تخته امر نوشتن بدهد سوال کند شاگردان را برای جواب خود تشویق کند که دست بردارند و بزبان نگویند تا آنکه معلم از یک شاگرد نپرسد معلم باید کوشش کند که ذهن طفل برای نگهداشت سوال و حل آن و دادن جواب مستعد شود و تا به پرسیدن و اجازه گفتن سوال و جواب در حافظه طفل بماند.

د دروس اشیاء مضمون:

شرح ده شکل حیوانات مختلف مثلا پشک، سگ، اسپ، گوسفند، مرکب، اشتر، مرغ خانگی، کبوتر، موش، گنجشک.

تفصیل گندم، جو، جواری، پالک، شلغم، کچالو، سیب، ناک، خربوزه.

فهماندن راست و چپ، جبهات اربعه، اسم روزهای هفته، نام ماها و مواسم، بیان سنگ، آهن و مس که از معدن گرفته میشود و ترکیب ظاهر انسان.

انتباه:

معلم این درس را طوری به طفل تدریس کند که طفل باحوال اشیای مذکوره متوجه شود و صرف توجه کند و برای طفل آسان و مرغوب معلوم شود.

د رسم مضمون:

رسم خط مستقیم، منکسر، منحنی، دایره، مثلث و مستطیل.

په همدغه ډول تر پنځم صنف پورې د ابتدایې دورې نصاب او لاربنوونې د معلم لپاره ځانګړې شوې وې.

۲- تالیه دوره:

دغه دوره په اوسني وخت کې ورته متوسطه ویلل کیږي پدغه دوره کې زدکونکو نسبت ابتدایي دورې ته په لوړه سطحه مضمونونه ویلل تر څو بلې دورې یعنې رشدیه دروې ته چمتو شي.

۳= رشدیه دوره؛

رشدیه دورې ته په اوسني زمانه کې ثانویه او یا لیسه دوره ویلل کیږي، دغې مرحلی ته هم د امانیه دورې په کال ۱۳۰۲ هـ ل/ کې یو پالیسي د ( پروغرام مکاتب رشدیه) تر عنوان لاندې جوړ شوی و چې د نصاب برسیره د رشدیه مکتبونو قسمونه هم ورکې مالوم شوي و چې په الف او ب قسمونو تقسیمدل او د هر قسم لپاره مشترک او عمومي مضامینو شتون درلود او یا هم هر قسم ته ځانګړې مضامین په نظر کې نیول شوي و.

لکه څرنګه چې په تشکیلات مکاتب رشدیه کې پدې اړه داسي ذکر شوی و:

( مکتب رشدی منقسم به دو قسم است قسم (أ) و قسم (ب).

شاگردانیکه از (أ) خارج میشوند در سال اول یعنی صنف دهم دوره ثانیه مکتب امانیه و یا دیگر مکاتب تالیه مماثله داخل شده و اکمال تحصیل میکند.

و برای تحصیل عالی در یک دارالفنون حاضر میباشند.

مدت تحصیلیه قسم (أ) چهار سال است و قسم (ب) که یک قسم مسلکیت پنج شعبه دارد: شعبه اداره، شعبه زراعت، شعبه تجارت، شعبه صنایع خفیفه، شعبه ماشین و الکتریک. مدت تحصیلیه هر شعبه پنج سال امتداد دارد...)

د پورتنیو تعلیمي او بیا عالی زدکړو بنیاد اوس هم په افغانستان کې وجود لري لکه د زراعت مسلکی لیسه، د خفیفه صنایع مسلکې لیسه، د تجارت مسکلې لیسه او همدا راز تخنیکمونه دغه لیسي مسلکې کسان له ۱۴ صنف نه په نیمه عالي سطحه فارغوي.

بیا نو دا موضوع په ډاګه ویللی شو چې امانیه دوره له خپلواکۍ وروسته د افغانستان له زرینو دورو څخه د تعلیم په برخه کې شمیرل کیږي.

د) د معلمینو او معلماتو ( نارینه او ښځینه ښونکو) په برخه کې:

د دارالمعلمینو او دارالمعلماتو مسلکي ښونکو په برخه کې هم په کال ۱۳۰۰ کې یو جامع پالیسي د ( پروغرام دارالمعلمین ها و دارالمعلمات مرکز) تر عنوان لاندي یو اداری سند جوړ شوي و د دغه پالیسي هدف د ښونکو تربیه او د معارف برخه کې د کدرنو برابر ول و.

په دغه برخه کې نه تنها نارینه ښونکې بلکې ښځینه ښونکې هم تربیه کیدلې او یو جامع نصاب ورته جوړ شوي وه چې لاندي یو برخې ته یې لنډه اشاره کوم:

( نظر به ماده ۴۹ نظامنامه تدریسات ابتدائیه و دروسی که در دارالمعلمین ها و دارالمعلمات مرکز تدریس میشود بروجه آتی است:

قرآن کریم و دینیات، فارسی، اخلاق و معلومات مدنیه، حسن خط، تاریخ، جغرافیه، ریاضیات، «حساب، هندسه»دروس اشیاء، علوم حکمیه « فزیک، کمیا»، تاریخ طبیعی «حیوانات، نباتات، علم الارض»، زراعت، حفظ الصحه، روحیات «علم النفس»، تطبیق قواعد علم النفس به صنعت ترتبیه، فن تربیه اطفال، رسم، کارهای دستی، موسیقی، تربیه مدنیه.

در دارالمعلمات مرکز  علاوه برین دروس اداره بیتیه «تدبیر منزل» خیاطی، طباخت نیز تعلیم داده میشود)

همدا راز د هري اختصاصي برخې مضمونونه او نصاب هم پدغه پالیسي پروګرام کې شتون درلود لکه د زراعت اختصاصي رشدیه مکتب د تجارت اختصاصی رشدیه مکتب او...

په آخر کې خپله دغه لیکنه د دري ژبې هغه ضرب المثل په لیکلو پای ته رسوم چې وایې ( مشت نمونه خروار است) دا پدې مانا چې د افغانستان د خپلواکۍ د غږ اوچتونکې او اخستونکې شاه امان الله خان کړنې د تاریخ په پاڼو کې نه هیریدونکې دي هر کال د هغه کړنې د خپلواکۍ په محفلونو کې د مقالو په بڼه او یا د وینالو په ویناوو کې را برسیره کیږي جنت الفردوس ځای او روحې ښاده وي.

او په اخره کې د یادوني وړ بولم چې د ښځو د تعلیم او تحصیل په اړه په افغانستان کې  باید اړین او استوار ګامونه واخستل شي د مکتبونو او پوهنتونونو دروازې باید د ښځو پر مخ په افغانستان کې پرانیستل شي او دغه جنسیتي  تبعیض باید پای ته ورسیږي.

لیکونکی: دکتور محمد ظریف علم (ستانکزی)